# لوګر

ماهنامه

میاشتنۍ خپرونه

monthly Logar

دوشنبه د۱۳۹۸ کال د غويي د میاشتې دویمه، د ۲۰۱۹ عیسوي کال داپریل دوه ویشتمه | ۴ | پرله پسې ګڼه (۱۰۲) لومړی کال، لومړی ګڼه


## په لوګرولایت کې دخبریال ملي ورځ ولمانځل شوه



دکب ۲۸ مه: په لوګر ولایت کې دخبریال ملي ورځ دلوګرولایت مقام دشهید عبدالله وردګ په تالار کې ولمانځل شوه، په یاده لمانځغونډه کې لوګر والي الحاج محمدانورخان اسحاقزي، ولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي، ملي امنیت رییس برید جنرال امیرجان ناصري، اطلاعاتواوفرهنګ رییس محمد شفیق پوپل، دلوګردژورنالیستانوخپلواکې ټولنې مشر نورالله ستانکزي، د دولتي ادارو مسؤلینو، د رسنیو استازواو خبریالانو ګډون کړی ؤ. غونډه دځومبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه.

وروسته داطلاعاتواوفرهنګ رییس محمد شفیق پوپل ټولو راغلو ژورنالیستانو ته ددې ورځې مبارکي ترڅنګ ښه راغلاست وویله.

پوپل ژورنالیستانو ته وویل، خپل ملي رسالت چې دټولنې په وړاندې لرئ، باید په سمه توګه ترسره کړئ، څو دټولنې شته دردونه لوړپوړي چارواکو ترغوږونو ورسیږي او په وړاندې یې عملي ګامونه واخیستل شي.

د زینت راډیو مسؤل او دلوګر دخپلواکو ژرنالیستانو دټولنې رییس نورالله ستانکزي د خبریالانو د ورځې په ویاړ ټولو ژورنالیستانو ته مبارکي وړاندې کړه.

ستانکزي وویل؛ دخبریال ملي ورځ په داسې حال کې لمانځو، چې لا هم دخبریالانو په وړاندې ګواښونه موجود دي، چې باید په اړه یې جدي پاملرنه وشي. همدارنګه ستانکزي په دولتي ادارو رییسانو غږ وکړ، چې دخپلې اداري لاسته راوړنې او مالومات دې له خبریالانو سره شریک کړي، څو د رسنۍ له لارې دهیوادوالو غوږونو ته ورسیږي. ستانکزي وویل، چې اداري دې په وخت رسنیو ته کره او سم معلومات وړاندې کړي، تر څو خبریالان وکولی شي، دخبرپه خپراوي کې تیت او پرک مالومات خپاره نه کړي.

وروسته دخوندیتوب کمیټې مسؤل خان ولي احمدزي خبرې وکړې او دژورنالیستانو دخوندیتوب په اړه وویل، چې سږنی کال په هیواد کې د ژورنالیستانو لپاره ترټولو خونړی کال ؤ. احمدزی له دولتي چارواکو غوښتونکی شو، چې د خبریالانو دخوندیتوب لپاره دې لازمې آسانتیاوې په نظر کې ونیسي.

لوګر والي الحاج محمدانورخان اسحاقزي دخبریال دورځې په اړه هم مبارکي وویله، زیاته یې کړه، چې خبریالانو په رښتیني ډول د هیواد په وړاندې ستر خدمتونه ترسره کړي او کارونه یې دستایلو وړ دي.

اسحاقزي وویل، چې نه یوازې دخبریالانو په وړاندې امنیتي ګواښونه لیدل کیږي، بلکې نن ورځ په هیواد کې چې هر وګړی اوسي له سترونګونو سره مخ دي، خو ددې لپاره چې له دغو کړیو څخه ووځو غوره داده، چې په خپلو کې یوالی رامنځته کړو، څو په سوله ئیزه فضا کې خپل ژوند ته دوام ورکړو.

الحاج محمدانورخان اسحاقزي؛ لوګرخبریالانو ته چې دخوندیتوب کمیټې په ناسته کې د ځمکې دنمرو ورکړې ژمنه کړې وه، ویې ویل، چې دخپلو درندو مسؤلیتونو له مخې به خبریالانو لپاره خپله ژمنه عملي او خبریالان به دځمکو دنمرو څښتان شي. دویناو په لړ کې دولایتي شورا رییس حسیب الله ستانکزي او ملي امنیت رییس برید جنرال امیرجان ناصري هریوو په وار سره خبرې وکړې او ددغې ورځې مبارکي یې ټولو خبریالانو ته ورکړه ، دوی دخپلو خبرو په ترڅ کې د خبریالي په مسلک او دندې رڼایې واچوله او دژورنالیستانو کارونه یې په اوسني سختو شرایطو کې دستایلو وړ وګڼل.

دغونډې په پای کې دولایت مقام لخوا دلوګر ولایت مخکښو او زیارکښو خبریالان په دریمو درجو تقدیرنامو او ستاینلیکونو ونازول شول.

پاتې دې نه وي، چې په لوګرولایت کې دامهال پنځه غږیزو رسنیو ترڅنګ دوه چاپي خپرونې فعالیت کوي، چې دوه غږیزې رسنۍ او پنځه چاپي خپرونې دااقتصادي ستونزوله کبله تړل شوي.

دیادونې وړه ده، چې د کب میاشتې۲۷ مه (د مارچ ۱۸مه) په افغانستان کې د خبریالانو د ملي ورځې په نامه نومول شوې، چې له دې وروسته به دغه ورځ دهیواد په کلیزه (تقویم)کې دخبریال ملي ورځې په نامه لمانځل کیږي. **امیني**

## د لوګر د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رییس خپل کور ښوونځي ته وقف کړ

دوري ۲۰ مه: د لوګر ولایت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رییس الحاج عبدالرحمن ناصري خپل کور ښوونځي ته وقف کړ.



ناصري یو جریب کور، چې په بره کې برک ولسوالۍ کې درلود، د عبدالرحمن په نوم د نجونو منځني ښوونځي ته ډالۍ کړ. دپوهنې ریاست ویاند محمدشاه پور عرب وویل، چې یاد کور ۹ خونې لري، چې اوس مهال د دغه ښوونځي **۵۵۴** نجونې زده کوونکې په همدغو خونو کې سبق وایي.

عرب زیاته کړه، د عبدالرحمن ښوونځی پر ۱۳۸۱ لمریز کال کې تاسیس شوی، چې د اتو سیمو نجونې ورته د زده کړو لپاره ورځي. د لوګر د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رییس ویلي، چې خپل کور یې نجونو ته د زده کړو زمینې د برابرولو په موخه معارف ته وقف کړ. عرب وویل؛ چې د لوګر د پوهنې ریاست د ولسمشر د لارښوونې له مخې ښوونځیو ته د ځمکو د پیدا کولو په موخه یوه کمېټه جوړه کړې ده. دعرب په وینا یادې کمېټې په تېر کال کې د ښوونځیو لپاره شاوخوا ۱۲۰ جریبه ځمکه د خلکو تر هځولو وروسته ښوونځیو ته اخیستي دي.

## په لوګر پوهنتون کې دوې پروژې ګټې اخستنې ته وسپارل شوې

دلوګر پوهنتون لپاره دوه مهمې ښوونیزې پروژې د وري په ۱۸ مه دیوې غونډې په ترڅ کې پرانیستل شوې، په دې غونډه کې دلوګروالي الحاج محمدانورخان اسحاقزي په ګډون، دوالي مرستیال تورن جنرال محمدنبي احمدزي، دلوګرپوهنتون رییس عبدالناصر ستانکزي، دولایتي شورا غړی سید قریب الله سادات، قومي مشرانو، سپین ږیرو، لوګرپوهنتون استادانو او د پوهنتون زده کړیالانو برخه اخیستې وه. دغونډې په پیل کې د سپیڅلي قران تلاوت وشو، وروسته دلوګر پوهنتون رییس عبدالناصر ستانکزي ټولو ګډونوالو ته دښه راغلاست ترڅنګ دیادو پروژو په اړه مالومات وړاندې کړل. پوهنتون رییس وویل، دغه دوه پروژې چې یوه یې دکمپیوټر لب خونه اوبله یې د کیمیا دڅانګې زده کړیالانو لپاره په عملي ډول دلابراتوار خونه ده، چې په مټ به یې د محصلینو زیاتې ستونزې هوارې شي. عبدالناصر ستانکزي زیاته کړه، دکمپیوټر لب خونه کې **۲۹** قلمه دکمپیوټر توکي او **۲۵** پایې کمپیوټرونه او نور اړین توکي مجهز شوي، چې دیادې پروژې لګښت څه دپاسه دوه میلیونه او اته لکه افغانۍ راغلي، چې د غیرې مشروطې بودجې لخوا لګښت یې ورکړل شوي.



ستانکزي وویل، دکیمیاڅانګې لابراتوار خونه کې ۱۷۱ قلمه بیلابیل لابراتواري توکي ځای په ځای کړي او لګښت یې څه دپاسه دولس زره امریکایي ډالره کیږي، چې دنړیوال بانک لخوا ورکړل شوي دي. ... **پاتې په دریم مخ کې**

## کنفرانس رسالت جوانان و آینده افغانستان از سوی اداره ولایتی نجم لوگر، برگزار گردید

پل علم باختر 17 حمل:

کنفرانس رسالت جوانان و آینده افغانستان، در تالار ریاست اطلاعات و فرهنگ ولایت لوگر با حضور قاضی محمدحسن اسلامی استاد پوهنتون سلام، علیم خان سعید و استاد شفیق‌الله الهامی اعضای هیات رهبری نجم برگزار گردید، همچنان در این برنامه منسوبین نجم، جوانان و محصلین ولایت لوگرنیزشرکت ورزیده بودند.

برنامه با تلاوت آیات متبرکه قرآن عظیم الشان توسط قاضی فضل ربی زاهد آغاز شد.



متعاقباً استاد قاضی محمد حسن اسلامی پیرامون رسالت جوانان و نقش آنان در ساختن آینده افغانستان صحبت های همه جانبه ارایه نمود. همچنان درجریان برنامه انتخابات برای تعین مسوول جدید ولایتی نجم صورت گرفت.در نتیجه انجنیر محمداسحاق صافی بحیث مسوول نجم برای سال ۱۳۹۸ تعین گردید. در اخیر کنفرانس انجنیر محمد کاظم ابراهیم زاده مدیر عمومی اموجوانان ولایت لوگر از فعالیت های نجم ستایش نموده و همکاری همه جانبه خویش را با اداره ولایتی نجم لوگر اعلان کرد، برنامه با دعاییه قاضی محمد حسن اسلامی استاد پوهنتون سلام اختتام یافت. **محمد زاهد سلطانی**

## به ارزش نزدیک به چهار میلیون افغانی سی وشش گرین حوض افتتاح شد

پل علم باختر11 حمل: به هزینه نزدیک به چهار میلیون افغانی 36 گرین حوض به تاریخ 11 حمل توسط تورن جنرال محمد نبی احمدزی معاون مقام ولایت لوگر، مسوولان ریاست زراعت، موسسات همکارودها قین افتتاح شد. ... **بقیه در صفحه سوم**

## دشهید ډاکټرعبدالولي وکیل دفاتحې مراسم ترسره شول

دوري ۲۱ مه : د لوګر د ولایتي شورا دمرستیال شهید ډاکتر عبدالولي وکیل او د نورو شهیدانو د فاتحې اخیستلو او د قرآن عظیم الشان د ختم مراسم د لوګر ولایت په پل علم ښار د ولایتي شورا په سالون کې پرځای شول.



په دغو مراسمو کې دلوګر والي الحاج محمدانورخان اسحاقزي، ولایت مرستیال تورن جنرال محمدنبي احمدزي، د ولایتي شورا رییس او غړو یې، دملي امنیت رییس برید جنرال امیر جان ناصري، د ولسمشر سلاکار انجینر اسدالله فلاح، په ولسي جرګه کې د لوګر د خلکو استازي علي محمد شهیدي، ولسوالانو، د دولتي ادارو رییسانو، قومي مشرانو، دیني عالمانو، ځوانانو او د دولتي ادارو کارکوونکو ګډون کړی ؤ. د ولایتي شورا مرستیال د وري په ۱۳ مه دکابل ـ جلال آباد په لویه لاره کې د ټرافیکي پېښې له امله شهید شو.

دیادونې وړ ده، چې شهید ډاکتر عبدالولي وکیل ۱۰ کاله د لوګر ولایتي شورا کې دنده او همدارنګه د رییس او مرستیال په توګه د خلکو په خدمت کې پاتې شوی ؤ.

## برنامه ترویج فرهنگ مطالعه وکتابخوانی بین جوانان، درولایت لوگربرگزاشد

برنامه ترویج فرهنگ مطالعه وکتابخوانی بین جوان درولایت لوگربه تاریخ 25 حمل ازسوی مدیریت عمومی امورجوانان ریاست اطلاعات وفرهنگ دایرگردید.

این پروگرام که درتالارکنفرانس ریاست اطلاعات وفرهنگ برگزارشده بود درآن پوهنیارعبدالناصرستانکزی رییس پوهنتون،لطف الله تایب عضوپارلمان جوانان، سیدهجرت الله سادات آمرآموزشی معینیت امورجوانان،محمد شفیق پوپل رییس اطلاعات وفرهنگ،فعالان مدنی،محصلین وبرخی ازجوانان اشتراک ورزیده بودند. انجنیرمحمد کاظم ابراهیم زاده مدیرعمومی امورجوانان می گوید که برنامه مذکورتوسط معینیت امورجوانان به همکاری ریاست اطلاعات وفرهنگ راه اندازی گردیده است که هدف آن ترویج فرهنگ مطالعه وکتابخوانی بین جوانان میباشد. محمد شفیق پوپل رییس اطلاعات وفرهنگ درجریان صحبت هایش گفت "ریاست اطلاعات وفرهنگ لوگرجهت آگاهی دهی درمورد اهمیت کتاب همواره تلاش نموده است ونیزدربخش اهمیت مطالعه آگاهی دهی صورت گرفته است که الحمد الله لوگردارای یک کتابخانه عامه



مجهز درپل علم میباشد که دوشاخه آن درولسوالی برکی برک ومحمدآغه نیزبروی مراجعین بازمیباشد وبرای ساخت کتابخانه درولسوالی های شش گانه پروژه سازی برای سال 1399 صورت گرفته است.وی علاوه کرد که باید عالم ازعلم شان مردم وجوامع را مستفید نماید "آقای پوپل افزود که انسان درسه هدف بسیارماموریت قاطع دارد یکی درفراگیری علم دوم مبارزه برای کسب رضای خداوند (ج) وپیداکردن رزق حلال، وی ازهمه جوانان خواست که درنهادینه ساختن فرهنگ مطالعه تلاش نمایند. ... **بقیه درصفحه دوم**


لوګر Logar

دامتیاز خاوند: داطلاعاتواوفرهنګ ریاست

مسؤل مدیر: شیرمحمد «امیني» ستانکزی ۰۷۰۵۱۰۶۶۲۸

کتونکې ډله: امین الله «صفا» او محمد زاهد «سلطاني»

خبریال: محمد موسی «عدیل»

ډیزاینر: امیني «ستانکزی»

فیسبوک پاڼې: دلوګرداطلاعاتواوفرهنګ ریاست/www.facebook.com

لوګرمیاشتنۍ/ www.facebook.com

یادونه: لوګرمیاشتنۍ خپرونه دسرلیکنې پرته؛ دلیکوالانو دلیکنو ننګه نه کوي اومسؤلیت یې دلیکوال پرغاړه ده.

که چیرې لیکنې لرئ چې په لوګرمیاشتنۍ کې خپرې شي، نو کولی شئ چې په لاندې پته یې را واستوئ.

داړیکې شمیره: ۰۷۴۴۴۲۶۴۲۸

دبرېښنالیک پته: Shir.stanikzai2@gmail.com

چاپ ځای: آزادی مطبعه